AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۹

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (پنځه اویایمه برخه)

## سردار نصرالله

سردار. محمدزی. د امیر عبدالرحمن خان زوی دئ او ویل سوي چې د ۱۸۷۵ز کال د اپریل د میاشتي په ۷ نېټي په سمرقند کي زېږېدلی دئ. په ۱۸۹۵ز کال کي ئې پلار امیر عبدالرحمن خان انګلستان ته د یوهٔ مأموریت لپاره ولېږهٔ. د وسله وال ځواک عمومي بولندوی او په کابل کي ددولتي شوری رئیس. په هېواد کي ئې د پام وړ قدرت درلود او د ممتاز. سردار په نوم یادیدهٔ. دهٔ د علماوو او محافظه کارانو ملاتړ له ځان سره درلود. سردار نصرالله د افغان هېواد پالو په منځ کي هم د ښهٔ افغان او هم د ښهٔ مسلمان په نوم شهرت درلود اویوازي د اسلام او د دولت په ګټو کي بوخت وو. وسله والو ځواکونو ته ئې لېوالتیا وښودله او د هغو له ګټو څخه ئې پلوی وکړه. د ۱۹۱۰ او ۱۹۱۳ز کلونو تر منځ ئې د افغانستان اکثریت مالیات تر کنترول لاندي ول. د خپل ورور امیر حبیب الله په پرتلي ډېر جدي او منظم او د حکومت باالقوه واکمن وو. په خپل باور او چلند کي برتانوي ضد وو او د خپلواکو قبائیلي سیمو له مشرانو سره په اړیکه کي وو. سردار نصرالله نائب السلطنهٔ وو. خلور مېرمني او پینځه زامن ئې درلودل : نور احمد، عزیزالله خان قتیل، عبدالرؤوف، عبدالغفار او عطأالله ناصر ضیأ (سفیر ناصر ضیأ په بلګراد کي وفات سو او په ۱۹۷۱ز کال کي په کابل کي د پلار ترڅنګ خاورو ته وسپارل سو.) د ستر درستیز په توګه له خپلي دندي څخه ئې لاس واخیست او ځان ئې په بشپړ ډول ملکي چارو ته وقف کړ. د ۱۹۱۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کي ئې په جلال آباد کي د سلطنت اعلان وکړ خو اعلیحضرت امان الله خان معزول او په ارګ کي زنداني کړ او ویل کېږي چې په ۱۹۲۰ز کال کي همدلته ووژل سو. د کابل په قولِ آبچکان کي خاورو ته وسپارل سو*.

## نصرالله خان

په ۱۹۰۰ز کال کي زېږېدلی دئ. د کلنګار د حاجي نواب خان زوی. د امیر امان الله خان پر مهال ئې د قانون د مجري د مرستیال [1] او علاقه دار په توګه کار کړی دئ. کله چې جنرال نادر خان په ۱۹۲۹ز کال کي افغانستان ته راورسېد، دی هم ورسره یو ځای سو. د ۱۹۲۹ز کال په پای کي د مزار شریف د پولیسو د مشر په توګه وګومارل سو. د ۱۹۳۰زکال د ډسمبر په میاشت کي د غزني لوی حاکم (حاکمِ کلان) وګومارل سو. په ۱۹۳۲ز کال کي د مشرقي د والي

[1] -Deputy magistrate


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په توګه وګومارل سو خو دۀ دا دنده وانخیستله. د ۱۹۳۲ز کال د ډسمبر په میاشت کې د جنوبي ولایت (پکتیا) د والي په توګه مقرر سو. په ۱۹۳۳ز کال کي په متون کې وو او د لیوني فقیر د نیولو هڅه ئي وکړه او د ټولګټو د وزارت مرستیال وزیر وګومارل سو چي تر اوسه پوري په همدغۀ مقام کي کار کوي. د سردار شاه محمود پر مهال د عامه امنیت د څانګي مشر وو. د فرقه مشر فیض محمد خان مشر ورور. د ضیأ خان ناصري پلار. دی او کورنی ئي اوس د امریکا په متحده ایالاتو کي ژوند کوي.

## محمد انور نو روز

د محمد نو روز زوی. له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۵ز کال پورې په واشنګټن ډي. سي. کي د افغان سفارت دوهم سکرتر. د باندنیو چارو په وزارات کي د پروتوکول آفیسر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په لندن کي د افغان سفارت سکرتر. له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په ډلهي/ دیلي کي د افغان سفارت قنسل. وادۀ ئي کړی او دوه بچیان لري. باندنی ژبي : انګلیسي او جرمني.

## محمد نوروز نوروز

د محمد حسن زوی په ۱۹۲۴ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. موسیقي ئي له خپل پلار څخه زده کړې ده. همدا شان شاعر هم دئ.

## جنرال محمد یحیی نو روز

د محمد نو روز مشر زوی په ۱۹۲۷ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ (ورور ئي انور نوروز نومېږي چي د باندنیو چارو وزارت کي دئ). په ۱۹۴۳ز کال کي د استقلال له لیسي فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۴۶ز کال کي له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۴۹ز کال پورې ئي په برتانیي کي پوځي روزنه ولیدله او هم ئي په ۱۹۵۷ز کال کي د امریکا د متحده ایالاتو (د پلي ځواک په ښوونځي فورت بنینګ جي. اې) [2] کي پوځي روزنه ولیدله، او بیا ئي له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د (کنزاس، په فورت لیون ورث کي په کماند ایند جنرال ستاف کالج) [3] کي پوځي روزنه ولیدله. په ۱۹۷۴ز کال کي د «هند د ملي دفاع کالج» [4] ته لاړ. پوځي خدمات : له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۰ز کال پورې او له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۳ز کال پورې د کابل صحرایي توپچي کنډک. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۲ز کال پورې کندهار؛ له ۱۹۵۳تر ۱۹۵۷ز کال پورې د ملي دفاع د وزارت د باندنی رابطي څانګه. په ۱۹۵۸ز کال کي د کابل څلورم زغره وال ځواک. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د ملي دفاع د وزارت د لوژیستیک په څانګي کي. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې عملیاتي څانګه. له ۱۹۷۳ز کال وروسته محمد داؤود ته ډېر نېږدې پوځي. په ۱۹۷۴ز کال کي تورن جنرال. په ۱۹۷۵ زکال کي د روزني / تعلیم او تربیي رئیس. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د ملي دفاع د وزارت د علمیاتو رئیس. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د اساسي قانون د مشورتي کمیسیون غړی. له افغان واکمنو او لوړو مقاماتو سره له هېواده دباندي د هغوی د سفرونو ملګری. په حربي ښوونځي کي ئي تدریس کړی او د پوځي مسایلو

[2] -US Infantry School, Fort Benning, GA.
[3] -Command and General Staff college, Fort Leavenworth, Kansas
[4] -Indian National Defense College


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

او روانو حالاتو باندې ئې بې شمېره ليکنې کړې دي. دوه ځله ئې وادهٔ کړی او دوه لوڼې لري : ثريا او ډاکټره صفيه او يو زوی لري ابراهيم. باندنۍ ژبې : انګليسي، فرانسوي، روسي او څه ناڅه توركي، عربي او اردو.

**عبدالرحيم نوين** : وګورئ : نوين

## نظر محمد نوا

د مير احمد قلي زوی په ۱۹۲۱ز کال کې په ميمنې کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۲ز کال کې د کابل له دارالمعلمينو څخه فارغ سوی دئ. د ميمنې په ثانوي ښوونځي کې ښوونکی او مدير. په ۱۹۵۰ز کال کې د ولسي جرګې غړی. په ولسي جرګې کې د فارياب استازی. په ۱۹۵۳ز کال کې د ميمنې او اندخوی د صنعتي کمپنۍ مرستيال رئيس. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د ننګرهار د ګمرکاتو مدير. شاعر. مورنۍ ژبه ئې وزبيكي ده.

## نواب خان

حاجي، د لوګر د کلنګار خواجه. په ۱۸۶۵ز کال کې زېږېدلی دئ. د امير حبيب الله خان د واکمنۍ پر مهال د منګلو د سيمې حاکم وو. امير امان الله خان له کاره برطرف کړ. د کورنۍ جګړې پر مهال د ځائيو په سيمې کې له شاه محمود سره يو ځای سو او ورپسې له نادر خان سره يو ځای سو او د نادرخان مصاحب سو. په ۱۹۳۱ز کال کې د اعليحضرت نادر شاه د استازي په توګه مکې مکرمې ته لاړ. په ۱۹۳۲ز کال کې ئې هڅه وکړه چې ليونی فقير ونيسي. په ۱۹۳۳ز کال کې ئې د خوست د بلوا پر مهال له متون څخه ليدنه وکړه او د همدغهٔ کال دوبی ئې په جنوبي ولايت کې تېر کړ او د قبائيلو د پخلاينې لپاره ئې کار وکړ. د توري – ځائيو د کميسيون د پلاوي مشر چې په ۱۹۳۳ز کال کې ئې د کورم په سرحد کې وکتل. د پخواني پادشاه محمد ظاهر د مصاحب په توګه مقرر سو او اکثراً ورسره مل وو. دوه زامن ئې درلودل : تورن جنرال فيض محمد خان د پادشاه ياور او بل زوی ئې نصرالله خان د ټولګټو د وزارت مرستيال وزير. او د کابل والي عبدالجميل ددهٔ ورارهٔ وو.

## غلام محي الدين نوابي (امين نوابي)

د غلام حيدر زوی په ۱۹۲۶ز کال کې په کوهدامن کې زېږېدلی دئ. ګنډونکی يا خياط سو او په وسله وال ځواک کې له خدمت وروسته ئې ليک لوست زده کړ او زده کړې ئې له خپل ځان سره په خپله وکړې. د حقوقو د پوهنځي د نشراتو کاتب

او تر څنګ ئې ماليه او اداره ولوستله. په ۱۹۵۷ز کال کې د اقتصاد د پوهنځي د نشراتو د مرستيال مشر په توګه وګومارل سو. په ۱۹۷۰ز کال کې د عدليې د وزارت د نشراتو د مديريت مدير او دلته ئې د (اوقاف) هره درې مياشتنۍ خپرونه خپروله. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د حقوقو د مجلې غړی او وروسته مرستيال محرر. په ۱۹۵۷ز کال کې د اقتصاد د پوهنځي د نشراتو د څانګې اسيستانت. د شاعر په نوم ئې شهرت وموند.

## غلام حبيب نوابي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د غلام حیدر زوی په ۱۹۲۴ز کال کې په کوهدامن کې زیږېدلی دئ. په ۱۹۳۹ز کال کې له دارالمعلمینو څخه فارغ او د ولایتي ښارګوټو په بېلابېلو ښوونځیو کې ښوونکی سو. د اتحادِ بغلان او اتحادِ بدخشان مرستیال محرر؛ د پښتون ږغ او انیس محرر. د افغانستان د کلتوري تأریخ په هکله د یو شمېر آثارو لیکوال.

## ډاکتر عصمت الله نوابي

د محمد قیوم نوابي زوی، په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. ثانوي زده کړې ئې په پېښور کې (چې پلار ئې هلته افغان قنسل وو) تر سره کړې دي. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۴ز کال پورې ئې د پاکستان د خیبر په پوهنتون کې تحصیلات وکړل؛ او په ۱۹۶۰ زکال کې د کابل پوهنتون د طب له پوهنځي څخه فارغ سو. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د مکلفیت عسکري دوره (د طبي افسر په توګه ئې خدمت وکړ). له ۱۹۶۲ تر ۱۹۶۴ز کال پورې په کابل کې د عامې روغتیا په وزارت کې د عامې روغتیا افسر. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د مصر په قاهرې کې د «عین شمس» [5] په پوهنتون کې د فوق فراغت [6] روزنه ئې ولیدله. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې ئې د «بروکلین کمبرلیند میډیکل سنټر» [7] نیویورک بروکلین کې د ستاژ او عملي کار د روزني دوره. په ۱۹۶۹ز کال کې د (مای مانودیز میډیکل سنټر) [8] کې د «هیمه تالوژی- وینې پېژندنې» [9] طبي ډاکټر. په ۱۹۷۲ز کال کې د «نیو یورک په دولتي پوهنتون کې» [10] د «ډون ټاون په میډیکل سنټر کې» [11] ښوونکی. په ۱۹۷۷ز کال کې پوهندوی. په ۱۹۷۹ز کال کې د (مای مانودیز میډیکل سنټر) کې د (هیمه تالوژي/ آنتالوژي) [12] مدیر. د امریکا په متحده ایالاتو کې د یو شمېر آثارو لیکوال.

نور بیا

## محمد عالم نوابي

په ۱۹۲۹ز کال کې په یوې محمدزیي کورنی کې زیږېدلی دئ. د برلین له...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[5] -Ain Shams University Egypt Cairo
[6] -Post- Graduate
[7] -Brooklyn Cumberland Medical Center, Brooklyn New York
[8] -Maimonides Medical Center
[9] -Hematology
[10] -State University of New York
[11] -Downtown Medical Center
[12] -Hematology/Ontology


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ